پیشگام
۰۱ جنوری ۲۰۲۳

## پیشگام، د روشنگرۍ په لور مخکښ گام

د افغانستان یو لاسپوڅی دولت ړنګ او بل لاسپوڅي ته د ارګ واګې ورکړل شوې. موږ له پخوا پر دې باور درلود چې لاسپوڅي او تالي څټي دولتونه نه پايي. ستمګرو امريکايي ـ ناټويي څواکونو په تيرو شلو کلونو کې داسې ربړونې، جنايتونه، ناتارونه او وژنېتر سره کړې، چې د انسانيت او د يوويشتمې پيړۍ پر مخ يې تورداغ پريښود. دا ټول جنايتونه د «بشري حقونو»، د «ښځو حقونو» او د «دموکراسۍ» او «تروريزم» سره د جګړې تر نامه لاندې وشول. د دې وژنو او بلوسګرۍ پايله، د امريکا او غرب د بلې غلامې ډلې، فاشيستو طالبانو واکمني ده. په لومړي دور کې قاتل او لوټمار جهاديان له چپاولګرو تکنوکراتانو سره د امريکا په چوپړ کې ووچې د زيارکښو او بيوزلو انسانانو وينه يې توبوله او خلک يې د نيستۍ او دربدرۍ ګړنګ ته سوق کړل.

موږ يو شمير هم انده او همفکره ملګري په تير شل کلن تجاوز او تيري کې د دې تر څنګ چې د ښکيلاک او د هغوی د لاسپوڅو په ضد وو، په ورته وخت کې مو د طالب بربريت، د داعش قساوت او د جهاديانو قتل، لوټ او خيانتونه افشاء او ښکاره کول. موږ د يو خپلواک افغانستان چې ټولنه يې پر دموکراتيکو او سکيولارو ارزښتونو ولاړه وي، پلويان وو او د ستمځپلو د آزادۍ او برابرۍ په پار مو د زبيښاک او استثمار په ضد د مبارزې په اړتيا ټينګار درلود.

د فاشيستو طالبانو له واکمنيدو سره زموږ په اند شرايطو او حالاتو راديکال بدلون نه دی موندلی. له پيله معلومه وه چې د ب.۵۲ دموکراسۍ وخت تيرېږي او د امريکا د ستراتيژيکو موخو د پلي کيدنې په پار د بنستپالی بل مخ، يعنې طالبان د قدرت په ګدۍ ډډه وهي. د امريکا ښکيلاکي تاريخ ښوولې چې تل يې پر فاشيستو، بيرحمو، جنايتکارو او جاسوسو او وطن پلورونکو څواکونو حساب کړی او بايد يې هم وکړي، څکه همدا ډلې او ټپلې کولای شي د امريکا او نورو مرتجع دولتونو د موخو د تطبيق لپاره کار وکړي.

امريکا او د هغه پخواني تکنوکراتو لاسپوڅو، طالبانو او جهاديانو د نورو بدمرغيو او ناورينونو تر څنګ، څو جدي ناخوالې جوړې کړې دي. دې دښمنانو زموږ ملي پيوستون او وحدت لازيانمن کړ، دموکراسي يې په وينو، لوټ، تالان او جنايت ولړله؛ خلک يې ووژل، نيستی، بيوزلي، ناروغي، بدلمني، سوالګري او اعتياد يې په بی ساري ډول زيات کړ، د بنستپالی اور يې بل وساته او د جهادي او طالبي نوکرانو تر څنګ يې، داعشي نوکران هم وروزل چې پرينږدي افغانستان په هيڅ ډول د يو رښتيني دموکراتيک دولت څښتن شي. له بده مرغه، امريکايي خونړی دموکراسی ډيری روڼ اندي داسې نشئه کړل چې ګنې خپلې فاصله مدينې ته رسيدلي وي. که چيرې په تيرو شلو کالو کې زموږ روڼ

اندو د سفارتونو د ورونو ډبولو په ځای، د یو سکیولار، دموکرات او آزاد افغانستان لپاره خوله تویه کړې وای، کار یې کړی وای او د ولسي پرګنو پر اتحاد او پیوستون یې تمرکز کړی وای، نن به زموږ ولس د وحشت او بربریت د بلې چړې لاندې پروت نه وای.

د اوسني ناورین په پام کې نیولو سره موږ هوډ کړی چې د تیر په څیر روښانتیایي کار ته دوام ورکړو. په دې هدف مو د «پیشګام» خپروني د پیلیدو تصمیم ونیو: د هر ډول اشغال، نیواک او ښکیلاک بربنډول؛ د طالبي او جهادي فاشیستانو په وړاندې مبارزه؛ د سیمې ارتجاعي دولتونو او د هغوی د جواسیسو د څیرو افشاء کول؛ د لوټمارو، خاینو، او خاین پلوه تکنوکراتانو د ماسک او نقاب څیرول او رټل؛ د جنایتکارانو د تطهیرولو د خاینانه چلند بربنډول، پر پوپولیستی چال چلند نیوکې، د آزادئ او سکیولاریزم او د ملي وحدت د ټینګښت په پار هڅې، د میرمنو د حقونو دفاع او ملاتړ، د زیارکښو پرګنو د منافع او ګټې ننګه، د مخکښ هنر او ادبیاتو بداینه او د شنډ او ارتجاعي هنر افشاء؛ د «پیشګام» اصلي کار جوړوي.

«پیشګام» د روښانتیایی غورځنګ یوه برخه ده. موږ باور لرو چې د ذهني بدلون له لارې کولای شو عیني بدلونونو ته لار هواره کړو. موږ باید ذهنونه په نوي او مخکښ فکر سمبال او مسلح کړو چې بیا بیا په تورو ګړنګونو کې نابود او تري تم نشو.